مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد انور آخړ ۲۰۲۱/۱۰/۰۵

# په ویتنام او افغانستان کې د امریکایانو جګړې

## (پرتلنه)

### شپږمه برخه

افغانستان:

د وژل شویو افغانانو سپکاوی:

هر هغه څوک چې انسان وي ځان وپېژني او د انسان د لويې مقام وپېژني، د خپل دښمن د مړيو سپکاوی نه کوي، مړو ته سزا ورکول مردي نه، بلکې یو ناځوانه او بې غیرته عمل دی، په پښتنو کې متل دی: (مړ يې کړه خو مړی يې مه بدرنګه وه) د نړۍ په بین المللي قوانینو، په ځانګړي توګه د ژنېو په کنواسیونونو او پروتوکولونو کې په جګړو کې د وژل شویو کسان بې حرمتي منع ده، دا شان د نړۍ په لویو ادیانو کې د مړیو سپکاوی جواز نه لري خو په افغانستان کې چې بهرنیو یرغلګرو زموږ د وژل شویو خلکو سپکاوی کړی دی، افغانانو ته لویه د خواشینی خبره ده خو د یرغلګرو لپاره هیڅ خبره نه ده، ځکه چې دوی نه د انسان مقام پېژني نه انساني اخلاق او نه کورنی تربیه لري.

دا ډول ناځوانه کسان، څلور تنه امریکایي پوځیان په ویډیو کې لیدل شوي دي چې د طالبانو پر وژل شویو جسدونو میتیازې کوي او ملنډې پرې وهي، د دغو امریکایانو اړوند کنډک، [دې دغه سپک عمل څخه] اووه میاشتي وړاندې د هلمند په ولایت کې دندې ترسره کړي وې. (بي، بي، سي، ۲۲/۱۰/ ۱۳۹۰ل. ل)

په دې اړه ولسمشر کرزي سخت غبرګون ښکاره کړ، د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې کلنتن خواشیني څرګنده کړه او د عاملانو لپاره یې د سزا غوښتنه وکړه، د امریکا د دفاع وزیر له ولسمشر کرزي څخه بخښنه وغوښته. امریکایانو وویل چې له دغو څلورو تنو څخه یې دوه تنه پېژندل شوي دي، دغو کسانو په عراق، ګوانتانامو او افغانستان کې دندې ترسره کړي وې. د دغو کسانو زړونه د ډېرو ظلمونو په کولو سره زنګ وهلي، د انسانیت له کړۍ خارج شوي شیطانان ترې جوړ شوي دي.

د دغو امریکایي جنایتکارانو د ناروا کړنو له کبله په افغانستان کې ډول، ډول غبرګونونه راوپارېدل چې له هغو څخه یو یې د کاپیسا ولایت په تګاو کې د ملي اردو یو سرتیري په فرانسوي عسکرو ډزې وکړې چې ۴ تنه فرانسویان مړه او ۱۶ تنه نور ټپیان شول، د ملي اردو سرتېرى ژوندى ونيول شو نو کله چې په دې اړه ترې وپوښتل شول ویې ویل:«زما د دې کار انګیزه، د امریکایي عسکرو له خوا د افغانانو پر مړیو باندې د دوی د میتیازو کولو پروړاندې غبرګون ؤ، نو پرېکړه مې وکړه چې زه باید بهرني عسکر ووژنم.» (طلوع تلویزیون، ۱۴/ ۱۱/ ۱۳۹۰ل. ل)

دا ډول یو تن امریکایي عسکر،۲۲ کلن مورلاک چې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو ډلګی مشر ؤ، په واشنګټن کې په پنځمي لواء پورې اړه لرله، په کندهار کې یې درې تنه بې ګناه کسان وژلي، بیا د مړیو پر جسدونو ناست او یو بل مړی یې د سر له ویښتانو پورته کړی، سر یې د کمرې پر لوري نیولی و او ملنډې یې پرې وهلي، مورلاک منلي ده چې د هغه دنده او موخه د بې ګناه خلکو وژل وو او د هغوی له وژلو یې خوند اخیست، له مورلاک سره نور څلور تنه امریکایي ترهګر هم مله وو، د دغه ترهګر عمل انځورونه د جرمني په شپیګل مجله کې وښودل شول چې وروسته د امریکا حکومت وویل مورلاک په ۲۴ کالو بند محکوم شو خو نوموړی به وروسته له ۸ کالو بند تېرولو آزاد شي. (دا ناوړه عمل د عراق د ابو غوریب د زندان له ترهګرو کړنو سره ورته والی لري.) (آزادي راډیو، ۱۳۹۰/۱/۵ل. ل)

د انګلستان اندیپین ورځپاڼي پوښتنه کړې ده چې څه رنګ یو ځوان سرتېرى کولی شي چې یوه لویه او له شرمه ډکه لانجه راوپاروي؟ ورځپاڼي په دې برخه کې د یو سرتیري چې د ملکي افغانانو د وژلو په جرم په ۲۴ کاله بند محکوم شوی له خولې ویلي چې ده خپل اخلاقي او مانوي ارزښتونه له لاسه ورکړي وو. اندیپنډن زیاتوي چې آیا په رښتیا دا ځوان سرتېری د هغې ډلې غړی دی چې (د مرګ د ډلې) په نوم یادیږي او د دې جنایت مسوول دی؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ

ورځپاڼي د محکوم شوي ترهګر څرګندوني ليکلي دي وايي
چي هغه ځارنوالانو ته ويلي دي چي د ۲۰۰۹ز، کال د عيسی
(ع) د ميلاد له مراسمو وروسته ده او ملګرو يي د خپل خورد
ضابط په امر د ملکي افغانانو په وژلو پيل وکړ. اينديپين د
ترهګر د مور له خولې ليکي چي د خپل زوی د قانوني دفاع په
موخه يي ۵۰،۰۰۰ ډالر برابر کړي دي، هغه په دې باور ده
چي زوی يې د بل چا په امر عمل کړی دی او د

ملکي افغانانو په وژلو کې لوړ پوړي افسران ککړ دي او د
هغې زوی يوازې د هغوی د کړنو قرباني دی، هغې ويلي چي
د امريکا د پوځ په نورو تولیو کې هم ورته جنايتونه کيږي خو
يوازې هغه کسان پرې خبريږي چي د جګړې په جبهه کې وي.



(ځوان بزګر د امريکا د «وژونکي ټيم» ترهګرو له خوا
د ۲۰۱۰ز، کال د جنورې په ۱۵مه وژل شوی دی)

حامد کرزي سخت غبرګون وښود ويي ويل:«د غربيانو وجدانونه، د دې ناوړه عمل په وړاندې بايد رابيدار او
راپورته شي که چېرې غربيان وجدان ولري ... .»

## د زندانيانو سپکاوی:

## د بګرام او ګونتانامو زندانونه:

امريکايانو د شپې په عملياتو کې نه يوازې د افغانانو د کورنيو غړي وژل بلکې د کورنيو سري يې هم بنديانول،
نيول شويو بنديانو ته يې لومړی په خپلو سيمه ييزو مرکزونو کې ډول، ډول وحشتناکي شکنجي ورکولي او بيا به
يې بګرام زندان او ځيني يې په کيوبا کې د ګونتانامو جزيرې ته لېږل. په دغو زندانونو کې بنديانو ته داسي شکنجي
ورکول کيدلې چي څوک يې ځناورو ته هم نه ورکوي، له بنديانو سره د امريکايانو ناانساني کړنې له شمېره وتلي
دي، د افغان بنديانو له ډلې يو هم په اسلام آباد کې د افغانستان اسلامي امارت، پخواني سفير ښاغلي ملا عبدالسلام
ضعيف ؤ چي د پاکستان د آی، اس، آی پوځي استختباراتي اداري له خوا په امريکايانو وپلورل شو په دې اړه
ضعيف صاحب (د ګونتانامو انځور) په نوم کتاب ليکلی دی، موږ د ښاغلي ملا ضعيف له کتاب هغه زوروني چي
امريکايانو ور رسولي دي، په لنډه توګه راخلو. هغه مهال چي پاکستاني ځواکونه د ضعيف صاحب کور ته د ده د
نيول په موخه ورغلل نو يو تن پاکستاني دولتي ترهګر په ډېرې بې احترامی سره وويل:«ډېر محترمه! ته نور
محترم نه يې.»
ښاغلی ضعيف وايي: دا هغه الفاظ دي چي د ډېرې دښمنی او تعصب له مخی استعماليږي او د ډېر بې عقلو ترخولو
راوزي او کله يې هم ضرورت نه ليدل کيده او يوازې يې د تعصب او دښمني څرګندونه کوله، بيا يې وويل: ته
پوهيږي امريکايان يو لوي سوپر طاقت دی او څوک يې مقابله نه شي کولی او نه يې خبره ورګرځولای شي نو
هغوی تا ته ضرورت لري چي تحقيق درځخه وکړي، زموږ د راتګ موخه همدغه ده چي تا امريکايانو ته تسليم
کړو او هغوی زموږ څخه راضي شي او پاکستان هم له خطره بچ شي.
ښاغلی ملا ضعيف له پاکستانيانو سره دليل وايي چي د ده نيول او امريکايانو ته سپارل د نړۍ له ډيپلوماتيکو قوانيو
سره په ټکر کې دي، نو د ضعيف صاحب په ځواب کې پاکستاني داسي وويل:«زموږ سره نن اسلام او قانون
مطرح نه دي او يوازې د پاکستان ګټي مطرح دي او بس.»
کله چي ضعيف صاحب د ای، اس، ای د تورو بښينو په ګاډي کې پېښور ته رسول کيږي نو خپله غمجنه کيسه
کوي وايي:«... موټر ته يې په ټيله، ټيله وهلو سره وړاندي کړم ... د چورلکي آواز تر غوږ شو او په زړه کې مې
وګرځيدل چي دا به ضرور ميدان وي او چورلکه به د امريکايانو وي. په همدې وخت کې يو قيمتي ساعت چي پر
لاس مې ؤ، په يوه حمله له لاسه خلاص شو بيا مې ونه ليد ... له څه درنګ وروسته په اردو ژبه راته په غوږ کې
وويل شول:«خدا حافظ.»
ضعيف صاحب چي کله امريکايانو ته تسليموي د پاکستانيانو او امريکايانو د وحشي چلند په اړه ليکي:«په همدې
مهال چي امريکايانو ته سپارل کيدلم، يو دم خلکو [امريکايانو] راحمله کړه لکه شرمښان چي په ګډ [پسه] حمله
وکړي، په لغتو او سوکانو يې ووهلم، چيغي يې راباندې وهلې، کالي يې راځخه کښول، کله به يې په ګونډو، کله
پرمخې، کله ستوني سټغ او کله به يې پړاړخ غورځولم، په چاکوګانو يې کالي راباندې څيرل، په همدې حال کې مې
له سترګو هغه توره پټه بېرته شوه، سترګي مې وغړولې ومې ليدل چي يوې خوا ته پاکستاني بې ننګه فوجي عسکر
په نظامي دود [په] صف ولاړ وو او بلې خوا ته امريکايانو څوتنه [په] صف وو او ډېر پاکستاني موټرونه چي يو
په کې د جنرال موټر هم ولاړ ؤ چي پر پلېټ يې د جنرال نظامي سمبول ؤ او زما تماشا يې کوله، د اسلام د


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

سپیځلي دین د ننګ او ناموس ساتندویانو په مړو سترګو ورته کتل او پټه خوله ولاړ وو او د تسلیمۍ لپاره یې تشریفاتي مراسم برابر کړي وو... امریکایي وحشي متعصبو او بې رحمه عسکرو په همداې حالت کې چې جامې مې په تن کې نه وې کشولم، الوتکې ته یې پورته کړم.


د تحقیق کوټه کې بندي ته عسکر تمانچه په سر ایښې او محقق تري پوښتنې کوي

ښاغلي ضعیف بګرام ته وړل کیږي، له الوتکې یې کوزوي نو امریکایي عسکر داسي ناري وربانديې وهي :«دغه یې لوی دی.» ضعیف صاحب هغه حالت داسي بیانوي: او د لغتو، سوکانو په وهلو یې شروع وکړه، ځینې د کنداغونو ګوزارونه مې هم محسوسول، جامې له تنه جلا سوې یوازې مې هغه [توره] خلطه په سر وه او ولچک او بېړۍ مې په پښو او لاسو کې وې، تازه واوره اوریدلې وه او له یو ساعت وهلو وروسته یې بربنډ هغې واورې ته وغورځولم ... بالاخره وروسته تر درې څلور ساعته د سخت یخ له امله بې هوښه شوم او نور په ځان نه یم پوهیدلی، کله چې په هوښ راغلم او سترګې مې وغړولې په یوه لویه خونه کې وم چې د لمر وړانګې په کې ځلیدلې ... مخ ته مې نظر وکړ چې دوه لوی عسکر چې توري کڅوړې یې په سر اغوستې وې د شپانو غوندې دوه لوی ډانګو یې په لاسونو کې دي او زما طرف ته د ګوزار په انتظار ولاړ دي او چپه او راسته طرف ته مې دوه نور د دیوانو غوندې تور حبشي عسکر ... ولاړ وو او تومانچې یې به لاسونو کې وې او زما سر ته یې نیولې وې، دوه نور عسکرو بیا شل ډزي توپک په سر رانیولي وو او تولو په یوه لوړ آواز درې شیان پوښتل:

ـ چیرې دی اسامه؟

ـ چیرې دی ملا محمد عمر؟

ـ او تا د نیویارک او واشنګټن په پېښو کې څه وکړل؟

ضعیف صاحب وړاندې وايي:«او زه د دوی په مابین کې بربنډ پروت وم... څومره چې دوی چیغې او ناري راباندې وهلې ما د ځواب طاقت نه درلود او نه مې خوله ښورلای شوه ځکه غاښونه او ژامې مې یخې وې او ژبه مې په تالو پورې ټینګه نښتې وه ... کله چې دوی پوه شول چې خبرې نه شي کولې او د ځواب طاقت نه لري څو شیبې یې پریښودلم او بیا یې یوه شنه اسماني رنګه دریشي راوغوستله چې له سره تر نوکانو پورې یوه ټیکه وه او دوو عسکرو کش کړم او په یوه نړیدلې خرابه کې یې وغورځولم چې ډېره یخه وه او بې له دغو جامو بل څه نه وو، دویم ځل بیا بې هوښه شوی یم کله مې چې سترګې وغړولې په یوه برستن کې پیچلې وم لکه مړی ... ټولو هډوکو مې ډېر سخت درد کاوه سر او اوږې مې عسکرو په وهلو کې رامات کړي وو، بدن او مخ مې په وینو لړلي وو او په ډېر په حیرت کې وم... » (ملا عبدالسلام ضعیف: د ګونتانامو انځور. ۱۰-۱۶-۲۶-۲۷-۲۸ مخونه)

ښاغلی ملا عبدالسلام ضعیف په خپل کتاب کې تر پایه د امریکایانو کړه وړه لیکلي دي خو هغه شکنجې چې افغانانو ته په امریکایي زندانونو کې ورکول کیدلې په لاندې ډول وې چې په لنډو یې لیکلو: پر بندیانو جنسي تیرې کول، بندیانو ته د مرګ ګواښونه، په داړونکو


(مولوي عبدالسلام ضعیف)

(پورته او د لیکنې په پای کې انځورونه «د ګوانتانامو ماتې زولنې» له کتاب اخیستل شوي دي)

سپیو داړول، په پښو سرچپه ځوړندول، د بندیانو سرونه په اوبو کې ډوبول، د ناوړو او بدو آوازونو په ایستلو سره خوب ته نه پریښودل، اورده بې خوبي، په ژمي کې لوڅ لغړ پرمخې څملول او څلور پنځه تنه عسکر پاس پرې کیناستل، د سپیو په بدرګه په ځمکه دېخوا ابخوا کشول،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

د بنديانو سرونه له ديوالونو او دروازو سره وهل، هر ډول ښکنځل کول، په ځنځيرونه تړل، د لمانځه د سجدې پر مهال دوه تنه عسکر د لمونځ کوونکي په سره کېناستل، د بنديانو د روحي شکنجې په موخه، د دوی پر وړاندې په قرآن کريم د بولو کول او بيلر ته غورځول، قرآن کريم په ځمکه ويشتل او بيا د تلاشۍ سپي په خوله کې نول او څنډل، په زور د ږيرې، برېتونو، سر او حتا د ويريځو خريل، نيمه ږيرې خريل نيمه پرېښودل، يو برېت خريل او بل برېت پرېښودل، وريځې نيمې نيمې خريل، بربنډ انځورونه اخيستل، په يوه نيکر کې د اوسپنې په قفسونو کې اچول، وږي تږي ساتل، په بندي د بې هوښۍ ګاز شيندل، بنديان په وهلو، وهلو فلجول، په وهلو، هلو د پښتيو ماتول، په سره هوا کې په تړل شويو بنديانو يسې په کوټه کې د ايرکنډيشن چالانول او داسې نورې ناانساني زورونې چې متمدنو (؟) امريکايانو افغانانو ته ورکولې.
دغه ډول د بګرام د زندان لپاره هغه هييت چې د ولسمشر حامد کرزي له خوا ټاکل شوی ؤ د ډېرو نورو مالوماتو تر څنګ دا هم وايي چې امريکايان افغان بنديان د پلټنې پر مهال بربنډوي او په حساسو ځايونو کې يې لاس وهي، د هييت يو غړي وويل چې موږ له امريکايانو پوښتنه وکړه چې تاسې ولې داسې کار کوئ؟ امريکايانو په ځواب کې وويل چې موږ ځکه دا کار کوو کيدی شي بنديان په خپلو حساسو ځايونو کې ميخونه او يا بورسونه تېر کړي (!).
(بي، بي، سي، ۱۸/ ۱۰/ ۱۳۹۰ل. ل)

د نړۍ ټول خلک د ځای لوڅول د شرم کار بولي او څوک نه غواړي بربنډ شي خو د افغانانو لپاره لوڅول يا جنسي تېرې له مرګ سره برابر دي، امريکايان د افغانانو په حساسيتونو پوهيدلي وو چې دا ډول ناوړه اعمال يې ترسره کول، په امريکايي پوځ کې بربندول خو يوې خوا پرېږده جنسي عمل يو رسمي بڼه لري، په پوځ کې جنسي عمل ته د امريکا ولسمشر اوباما رسمي اجازه ورکړه او په دې اړه يې فرمان لاس ليک کړ.
د کيوبا په يوه جزيره کې د ګوټنتامو زندان، په هند کې د انګرېزي استعمار د تورو اوبو (کالا پاني) زندان ته ورته دی، د انګرېزانو د تورو اوبو تاريخی بدنام (سيلولر) نومی زندان د هند بحر د انډيمان په ټاپو (جزيره) کې دی چې ښايي امريکايانو به هم د انګرېزي استعماره زده کړي وي يا به انګرېزانو ښودلي وي چې د تورو اوبو په څېر د بحر په منځ کې زندان جوړ کړي.
د امريکايانو د دا ډول شکنجو پر وړاندې ډېر هغه کسان چې له بګرام، ګوانتانامو او نورو زندانونو خوشي شوي وو د غچ اخيستنې په موخه له کينې په ډک زړه له طالبانو سره يو ځای شول، د امريکايي ځواکونو په وژلو کې يې مرسته وکړه، ښاغلي کرزي په وار، وار ناري وهلي چې د بګرام زندان د طالبانو د توليد اصلي عامل دی.
دا ډول يو تن افريقايی انجنير صلاحي چې د افريقا د موريتانيا اوسيدونکي ؤ، به کال ۲۰۰۲ز، کې په دې جرم نيول شوی ؤ چې په ۱۹۹۸ز، کې، يو خپلوان له سودان څخه ټيلفون ورته کړی ؤ، صلاحي وايي دا زما د يو خپلوان ټيلفون ؤ ما ته يې دومره ويلي وو چې پلار يې ناروغه دی چې څوک ورولېږم او ما دا کار وکړ خو ټيلفون د اسامه بن لادن ؤ، دغه خپلوان يې په ختيځه افريقا کې د اسامه بن لادن ملاتړی ؤ، د دواړو ترمنځ دغه ټيلفوني خبرې (سي، ای، اي) اوريدلي وې او له همدغه وخته د ده څارنه کيدله، د امريکايي چارواکو د ادعاوو له مخې صلاحي څو ژبې ويلی شوې او د مخابراتو د ټکنالوژۍ يو ماهر انجنير ؤ خو په افغانستان کې يې جګړې ته زړه ښه کړ، صلاحي په کاناډا کې هم اوسيدلی دی او د ادعاوو له مخې د هغو دسيسو برخه ؤ چې د لاس انجلس پر هوايي ميدان د بريدونو دسيسه يې تياروله.
له صلاحي پوښتنه وشوه چې دا ويل کيږي چې د اسامه بن لادن له ټيلفون څخه زنګ ورته وهل شوی ؤ، نو امريکا خو به هرومرو ستا په اړه اندېښنه لرله.
هغه وويل:«بيخي سمه ده ډېرې اندېښنې داسې وې چې په ځينو شيانو کې زه لاس لرم خو زه بې ګناه وم موږ ډيموکراسي او د قانون حاکميت غواړو، بايد چې امريکا زما د نيولو حکم جاري کړی وای او محاکمې ته يې مخامخ کړی وای خو امريکايانو داسې ونه کړل.»
ښاغلي صلاحي د سپټمبر د ۱۱ پيښې په اړه د بوش د وينا په اړه چې د ډموکراسۍ او آزادۍ په هکله يې کړې وه وايي:«هو په ياد مې دې چې په کار بوخت وم، يو کس راته وويل: محمده دربمه نړيواله جګړه.»
جورج ډبليو بوش له بريدونو وروسته په خپله وينا کې وويل:«امريکا ځکه په نښه شوې چې موږ آزادي او دموکراسي غواړو او د نورې نړۍ لپاره يې هم غواړو، بوش وويل القاعدې په امريکا بريد کړی دی ځکه چې زموږ د ژوند طرز يې نه خوښيږي، موږ به د خپل ژوند لاره چيرې هم بدله نه کړو.»
د بوش د څرګندونو په اړه صلاحي زياتوي:« عجيبه خو دا ده چې لومړی کار يې دا ؤ چې د امريکايانو دغه لاره يې بدله کړه او خلکو سره يې د قانون له چوکاټه بهر چلند پيل کړ.»
هغه مهال چې صلاحي ۱۹ کلن ؤ افغانستان ته تللی ؤ، نوموړی يې په اړه وايي:«سفر مې ډېر خوښيږي په جېن کې مې راغلی دی، د هغه ځای تلاش کوم چې د غرونو شا ته وي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولۍ

په تلويزيون او هر ځای کې د مجاهدينو د آزادۍ د جنګيالو په اړه خبرې کيدې له خلکو سره د زور زياتي خبرې وې مرسته کول مو غوښتل نو فيصله مې وکړه چې افغانستان ته ولاړم، زه ډېر خوشاله يم چې چيرې مې هم په بريدونو کې برخه نه ده اخيستې.
ښاغلی صلاحي په افغانستان کې خپل حالت داسې بيانوي: زما لپاره وېروونکي وه، د يو ډول مذهبي کلتور بڼه يې درلوده، په کمپونو کې زياتره سعوديان وو او زه ترې يرېدم، مور مې ډېره خپه وه، ما ته يې يو ليک راولېږه، په ما يې ټينګار وکړ چې زرترزه کور ته راشم او راته يې وويل چې په ژوند کې د ټولو تېروتنو حل شته خو يوه غلطي چېرې هم نه شی رغولی، هغه د بل چا وژل دي، ځکه چې بيا يې نه شی ژوندی کولی او جبران يې هم نه شي کيدی.
صلاحي په جرمني کې لوړې زدکړې کړي وې او په جرمني کې د مخابراتو د انجينر په توګه کار کاوه. هغه په داسې حال کې ونيول شو چې د شمالي افريقا په مورتانيا کې له خپلو خپلوانو سره د ليدو لپار خپل کور ته تللی ؤ.
صلاحي وايي پوليسو راوغوښتم ويې ويل امريکا تا ته ضرورت لري، د سپټمبر د ۱۱ وروستو خلک هک پک او پرېشانه دي، بايد چې ته ورسره خبرې اترې وکړې او مرسته يې وکړې، هغوی زه بوتلم سترګې يې راله تړلي وې هوايي ميدان ته يې ورسولم، رپيدم کالي يې رانه وايستل، هغه وخت مې باور کاوه چې نور ژوندی نه شم پاتې کيدی او چېرې به خپل کور هم بيا ونه وينم.
هغه يې له نيولو وروسته په يوه زندان کې ساته، بيا يې له سلګونو نورو کسانو سره افغانستان ته انتقال کړ او بالاخره په ۲۰۰۲ز کال کې په کيوبا کې د ګونتانامو په پوځي اډه کې بندي شو.
نوموړی د زندان د شکنجو په تړاؤ وايي چې دومره وهل ټکول وو چې په وهلو، وهلو يې نړدې وژلی وم پښتې راته ماتې کړي وې سا مې نه شوه اخيستی سا مې تنګه تنګه کيده خو د هغوی لپاره دا هم کافي نه وو، اوبه به يې داسې راباندې پرېښودې چې پوزه او خوله به مې له اوبو ډکه شوه سا مې نه شوه اخيستی خو چې کله يې دا راته وويل چې مور به مې وتښتوي او جنسي تېری به پرې وکړې نو بس همدغه وو چې هر څه مې ومنل چې څه يې رانه غوښتل هغه مې ومنل.
ښاغلی صلاحي د امريکايانو د ځناورتوب په اړه وايي:«زه يې په ويلو شرمېږم، ياديږي مې چې د سعودي عرب يو زنداني راغلو او ژړل يې، موږ ته يې وويل: جنسي تېری وراندې شوی دی. موږ وخندل ورته ومو ويل: څه وشول که يوه ښځه درنږدې شوه پرېږده، بيا يې راته وويل دا څومره ټکان ورکوونکي او دردوونکي خبره ده چې درباندې په زوره جنسي تېری وشي، ټول عمر به ترې کړېږې ډېر د کړاؤ او بې عزتۍ احساس به کوې.
صلاحي څلور کاله هېڅ قانوني وکيل نه لرلو، ۱۵ کاله يې په زندان کې بې له کوم رسمي توره تېر کړل.
په پای کې ښاغلی صلاحي وايي:«ما ټول ښنلي دي زه نه غواړم چې زما له کبله دې څوک په زندان کې يوه ورځ هم تېره کړي، يوازې دا غواړم چې د موريتانيا او افريقي خلکو سره دې دروند چلند وشي د هغوی د حقونو درناوی دې وشي.» (بي، بي سي: د ګونتانامو زندان عني شاهد د مارچ ۲۰۲۱/۲۰ز)




د جورج بوش د ګونتانامو بدنام زندان ټول مقررات او چال چلند د دولتي ترهګرۍ يوه ظالمانه او وېروونکي بڼه ده، د يويشتمې پيړۍ په دؤر کې له زندانيانو څخه د امريکايانو د تحقيق څرنګوالی د ځمکې پر مخ په يو هېواد کې نه تر سترګو کيږي چې دا د امريکايانو لپاره د شرم نښه ده او په تاريخ کې به د انګرېزانو د تورو اوبو زندان په څېر د امريکايانو لپاره د يو تور داغ په توګه پاتې شي، په دې خبره ډېر امريکايان او ولسمشر اوباما هم پوهيږي، هغه مهال چې بارک اوباما د امريکا ولسمشر شو، د خپل کار په لومړۍ ورځ د ګونتانامو زندان د تړلو فرمان يې د يو کال په موده کې لاس ليک کړ او د تحقيق په جريان کې له بنديانو څخه د بوش د وخت ټولې ترهګريزې شکنجې، لکه جنسي تيري، وهل ټکول، په اوبو کې ډوبول، په سپيو او نورو برېښنايي وسايلو ډارول او داسې نور چې د (سي، آی، اې) له خوا تر سره کيدل بند کړل او ولسمشرۍ د لوړې په ورځ امر وکړ چې د ترهګرو په نوم دې ټولې پرېکړې تر ۱۲۰ ورځو پورې وځنډيږي. د ګونتانامو زندان تر اوسه پورې نه دی تړل شوی او يو شمېر بنديان اوس هم په کې دي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ




نور بيا...



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ